ولي الله ملکزی ۲۰۲۲/۱۰/۲۴

# همایون سخي: زما هنر د ګندهارا د تهذیب لړی ده

تیره شپه؛ د کالیفورنیا د سکرمنتو په ښار کې د نوو راغلو افغان کډوالو سره د قانوني او لوژستیکي مرستو په مقصد یوې غیر انتفاعي ټولنې د خپل نوي دفتر د پرانیستلو غونډه جوړه کړې وه. د ګڼ شمیر ایالتونو او مختلفو ښارونو څخه مخه ور وکیلان، لیکوالان، د رسنیو استازي، د تجارتونو خاوندان او هنرمندان راټول شوي وو. د کابل په شیوه کیو کې زیږیدلی، ۴۷ کلن تکړه هنرمند همایون سخي یو له هغو ګډون والو څخه وو چې د خپل غږ او هنر له کبله یې د ټولو پام ځان ته را اړولی وو.

سخي چې له ۴۷ څخه زیاتو هیوادونو ته یې هنري سفرونه کړي او بلا خاطرې یې له ځان سره ساتلي؛ د خپلو همزولو او سیالانو په منځ کې د پراخه شهرت په څپو سپور دی. نوموړی د موسیقی په هنر بی بریده مبین دی او هغه د خپل ژوند تر ټولو غوره مشغولا ګڼي. یوه ځانګړتیا یې دا ده چې همیشه یې خوله له خندا ډکه او په مخ یې د موسکا نښې له ورایه لیدل کیږي.



همایون سخي ولي الله ملکزی

همایون چې نن سبا ورته په ټولنیزو رسنیو کې د استاد لقب هم کارول کیږي، په نهه کلنی کې سندرې پیل او لومړنی استاد یې خپل پلار دی. سخي په ویاړ سره وایي چې ما د هارون باچا او استاد مهوش په څیر ځینو مشهورو سندرغاړو ته د موسیقي طرزونه / ترونونه جوړ کړي چې شمیر یې پنځوسو ته رسیږي. وایی د څلورو لسیزو اوږدې تجربې سره سره، بیا هم ډیر تمرین او ریاضت کوم، ځکه د وخت او ټکنالوژی سره ځان عیارول، د تکړه هنرمند، څرګنده نښه ده.

سخي د خپل تحقیقي حس په اړه وایی: ښایي زه به لومړنی کس یم چې د مغول جلال الدین اکبر پاچا د مهال، د یو ډیر افسانوي او فولکلوریک رباب غږوونکي په اړه می ښایسته هڅه وکړه. دغه د مینې او وفا سمبول؛ آدم خان یوسفزی دی چې د خپلې نامرادي معشوقي، درخانی په یاد کې به په درو او سردرو ګرځیده او رباب به یې غږولو. زیاتوي: زه د خیرني په نیت د کوزې پښتونخوا د چکدرې سیمې ته لاړم او هلته مې د آدم خان د رباب غږوني په سمفونیک اړخ باندې کار وکړ. هغه مې پیدا کړ او بیا مې د یوې جرمنی کمپنی د تخنیکي همکاری پرمټ د خپل هنر برخه وګرځوله.

نوموړی وایي: دا خبره ناسمه ده چې ګوندي د رباب آله او سندریز کمپوزونه له هند څخه زموږ سیمي ته راوړل شویدي. حقیقت دا دی چې د شفاهي لرغونو روایتونو ترڅنګ، د ارکیالوجي پوهانو جوته کړې چې دغه کلاسیکه آله له نن څخه دوه زره کاله وړاندې د ګندهارا د تهذیب غښتلې برخه وه چې د هندوکش او سلیمان د غرونو په لمنو کې به میشتو ولسونو د خوښیو او حماسو په محفلونو کې غږوله.

همایون سخي واده کړی او له تیرو یوویشت کالو راهیسې د امریکا د کالیفورنیا ایالت د سانفرانسیسکو په سیمې کې اوسیږي. د غونډې په ترڅ کې د ځینو افغاني مغازو له خوا د اقچې، مزار او هرات قالیني او په ننګرهار او قندهار کې د خواریکښو میرمنو په لاسونو جوړ شوي وطني لباسونه هم ننداري ته وړاندې شول چې د هوټل د مجلل تالار ښکلا یې څو چنده زیاته کړې وه.

دلیکوال آرشیف



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ